# د موسهی اخندزاده
# ملا فیض محمد مرحوم

د اعلیحضرت امیر شېرعلیخان دوره د پښتو ژبې په نهضت کي ښکاره اهمیت لري، دغه وخت و چي پښتو نومونه په ملکي او عسکري تشکیلاتو کي په رسمي ډول داخل سوه، او هغه اعلیحضرت خپلي ژبې ته پوره توجه درلوده.

په دې وختو کي پښتنو علماوو هم پښتو ژبه پالله او مورږ ښه لیکوال او شعراء لرو چي د مرحوم امیر دوست محمد خان تر عصر وروسته پیدا سوي دي.

یو له دغو علماوو څخه چي ډېر شهرت او روحاني لوړ مقام یې درلود مرحوم ملا فیض محمد اخندزاده حسین خېل دئ چي د لوګر د موسهي و او په خلکو کې د موسهي په اخند صاحب شهرت درلود.

دا مرحوم عالم او روحاني سړی د (۱۲۵۰هـ) په حدودو کي زوکړی، او تحصیل یې د وطن د مشهورو علماوو په حلقه کي کړی و، د سوات مشهور عالم ملا عبدالغفور صاحب یې استاد و، دی مجاهد سړی و، او ډېر مریدان او مخلصین یې درلوده، د مرحوم ملا نجم الدین آخند، ملګری او همکار او همفکره و او په وطني مجاهداتو کې هم برخه درلوده.

د پښتنو د استقلال خواهۍ حس ډېر قوی دئ او دا غریزه د دوی په حیات کي هر ځای ځان ښکاره کوي، د دوی ملي لنډۍ او نارې چي د عوامو د احساساتو څخه ډکي دي او ترجماني یې کوي تل د آزادۍ په ستایلو کي وي، د دوی د خواصو او پوهانو او علماوو احساسات هم د استقلال په نمنځنه کي ښکاره کېږي.

یو له هغو آثارو څخه چي د دې ملت د خپلواکۍ حس ښکاره کوي او د استقلال د ساتني یو درس ګڼل کېږي د موسهي د ملا صاحب یو کتاب دئ چي په دې ورځو کي د ښاغلي پژواك په سعی موندل سوی او د پښتو ټولني په کتابخانه کي خوندي سوی دئ.

زه دلته د پښتنو شعراوو او مشاهیرو په لړ کي د دې کتاب محاسن او د مرحوم مړلف ملي او شعري خوا لږ څه څرګندوم، چي د دې ملي شاعر یاد تازه سي او د چا هېر نه سي.

دا کتاب "روضه المجاهدین" نومېږي، (۱۳۵) مخه دئ، هر مخ یې (۱۲) لیکي لري، دا نسخه په (۱۳۳۷هـ ق) د رمضان نومي په خط د محب العلماء محمداسمعیل خان پوپلزي له پاره کښل سوې ده، چي کاتب یې د لغمان د الیشنګ د درې د اسلام آباد د کلي دئ او محمداسمعیل خان د مرحوم سردار نصرالله خان نایب السلطنه ناظر و.

دا کتاب اساساً د مړلف مرحوم له خوا د جهاد په تشویق کي کښل سوی او په پښتو لنډ مثنوي نظم سوی دئ، ټول تخمیناً یو نیم زر بیته کېږي، مرحوم مړلف هغه مبارك آیتونه او احادیث چي د جهاد په تشویق کي راغلي دي یو یو را اخلي، او په پاړسي نثر یې ترجمه کوي، وروسته نو پښتو منظومه ترجمه په مثنوي راوړي.

کتاب داسي شروع کېږي :

| | |
|---|---|
| په نامه د لوی عزیز | چي قادر دئ په هر چیز |
| دی پیدا کاندي انسان | بیا یې پوه کا په بیان |
| شي عالم په حقایقو | اظهار کا د دقایقو |

وروسته د کتاب د لیکلو بیان او د امیر شېرعلیخان ستاینه کوي او هم د ده خوا داسي وایي :

| | |
|---|---|
| په جهاد کي ډېر ساعي یم | د تمام اسلام داعي یم |
| نور چا کړي کتابونه | په جهاد کي تصنیفونه |
| ما که دا مبحث بیان | په فارسي پښتو آسان |
| آیاتونه په دې شان کښي | چي وارد دي په قرآن کښي |
| مختصر واضح تفسیر شوه | په پښتو فارسي تحریر شوه |
| چي فایده یې شي تمامه | و رسي تر خاص و عامه |
| که نظر پکښي عرب کا | په آیات حدیث طرب کا |
| په فارسي خوښ فارسیبان شي | په پښتو به ښاد افغان شي |
| رب دي زمورامورسي که | هم دي کل اسلام قوي که |
| دا امیر د دین مجلي | مسمي په "شېرعلي" |
| داسي وایي مړمنانو | د حضرت متابعانو |
| پیدا شوي یو طاعت ته | د الله و مغفرت ته |
| دی عاصم دئ د احبابو | او هازم دئ د اخرابو |
| مددګار دئ د ابرارو | خوارورنکی د اشرارو |

په دې ډول مرحوم ملا صاحب د کتاب بنا د امیر مرحوم له وینا څخه کوي او داسي معلومېږي چي مخصوصاً دا کتاب ده د امیر په امر د هغه له خوا نظم کړی دئ، ځکه چي دغه دېباچه ختم سي او د امیر وینا خلاصه سي نو مرحوم اخند صاحب ځان داسي یادوي :

| | |
|---|---|
| پسله حمده له ثنا | له درووده له دعا |
| داسي وایي فیض محمد | حلقه بګوش د محمد |

په دې ډول د کتاب اصل مقصد شروع کېږي، د مرحوم اخند صاحب وینا او شعر عالمانه او هم روان دئ، خپل مقصد په شعري ژبه ښه وایي او د قرآن عظیم د آیاتو ترجمه په پښتو نظم کي په ښه ډول کوي.

په کتاب کي ځای ځای اخلاقي مضامین هم راځي او تبلیغي حلیه مومي، مثلاً یو ځای وایي :

| | |
|---|---|
| احترازکړه له شبهاتو | رغبت مکړه په شهواتو |
| له گناهه تل پرهېزکړه | له فساده ډېر گرېزکړه |
| گناه مه گڼه حقیره | که کمکۍ وي که کبیره |
| استخفاف دگناه جانه | سړی باسي له ایمانه |

ملا صاحب د خپل ملت د یووالي او د پښتنو د اتفاق یگانه منبع دئ او دوی ټول یووالي او اتحاد ته رابولي او په دې لاره کي دکتاب ډېري برخي خواږه اشعار لري چي دلته د نمونې په ډول یو څو رانقل کېږي :

| | |
|---|---|
| مومن هر چیرته عالي دئ | پاك الله د ده والي دئ |
| خلاف مه کړئ پخپل میان کي | چي واقع په شئ په زیان کي |
| د نصرت شمال به کوږ شي | د دښمن خاطر به خوږ شي |
| رعایا یې که پلتن | داسي شئ لکه یو تن |
| همه واړه یو وجود شئ | په طلب کي د مقصود شئ |
| د وجود خاصیت دا دئ | کل عالم ته هویدا دئ |
| یو اندام چي ازار من شي | صورت کل واړه غمجن شي |
| نې راحت وي نه آرام | په جهت د دې اندام |
| له صغیره ترکبیره | خلاف مه کړئ له امیره |
| کلي واړه مسلمان | قبول کړئ د ده فرمان |

ملا صاحب د مملکت د ساتونکیو او هغو خلکو چي پر سرحد پراته وي او مملکت ساتي مراتب بیانوي او د عسکریت لوړه مرتبه په اسلام کي ښکاره کوي، وایي :

| | | |
|---|---|---|
| اقامت پر بندرګوره<br>پر تمام جهان بهتر دئ<br>که يې مشك که يې عنبر وي<br>هم بهتر دئ اې فهامه<br>چې په شپو کې يې قيام کړي<br>که څوك مړ شي په بندر کې<br>د غزا ثواب به مومي<br>هر عمل بې زيادت کاندي<br>د جنت شراب به شومي<br>که په هر سبب وفات شي<br>خدای بې خلاص که له شيطانه | | تر يوې شپې ورځې وروره<br>هم له هر شي نه خوشتر دئ<br>که يې دُرکه يې ګوهر وي<br>د يوې مياشت له صيامه<br>عبادت د رب مدام کړي<br>هيڅ تېر نه کړي په خاطر کې<br>خو جنت و ته دی درومي<br>څو رب ورځ د قيامت کاندي<br>هم بې واړه نعمت مومي<br>دا به ده و ته نجات شي<br>شي به امن له فتا نه |

ملا صاحب د کتاب نوم "روضې المجاهدين" ايښی دئ، نو ځکه يې ډېر مباحث په عسکريت اړه لري، پخپله دی هم مجاهد سړی و نو د عسکريت آداب او لوازم په ښه ډول بيانوي. يو ځای هغه صفات او خلاق ښيي چې د يوه عسکري مشره سره لازم دي، نو دا کتاپ د وطن په عسکري اخلاقو او معلوماتو کې هم کومك کوي، مثلاً دغه بيتونه د يوه مسلمان عسکري مشر صفات څنګه ښه تصوير کوي :

| | | |
|---|---|---|
| په لښکر کې چې افسر وي<br>شجاعت لري کرار وي<br>هم عاقل او مدبر وي<br>دلسوزي لري ناصح وي<br>سخاوت لري ښه داد که<br>چست چالاك وي ثقيل نه وي<br>کبرجن او جاهل نه وي<br>له لښکره باخبر وي<br>ستمګاره بد خوی نه وي<br>تېښته نه کاندي صابر وي<br>له سلطانه طاغي نه وي<br>د پادشاه په خدمت راست وي<br>نه شراب خوري نه زاني وي<br>حکومت يې سراسر<br>داسې نه چې دولت ټول که<br>عالم واړه در په در که | | می بايد چې دلاور وي<br>په صفونو کې جرار وي<br>ښه ديندراه مذکر وي<br>هم انصاف لري صالح وي<br>له لښکر سره امداد که<br>هم ظالم او بخيل نه وي<br>بدکرداره غافل نه وي<br>پخپل کار کې باهنر وي<br>هم پوچخولی بدګوی نه وي<br>په نعمت د رب شاکر وي<br>له الله نه باغي نه وي<br>د الله په طاعت راست وي<br>نه رشوت خوري نه جاني وي<br>په کتاب وي برابر<br>دی خپل ځان ورباندي موړ که<br>خپل مختور خاوري په سر که |

په دې ډول ملا صاحب د خپل وطن او خپل قوم په درد خوږمن یو سړی دئ، پخپل کتاب کې هسي مواعظ او نصایح ټول کړي دي چي د ده قوم هغو خبرو ته اړ و، نو دی د خپل عصر په احتیاج پوه و، او خپل قوم يې تل د وطن ساتني او د استقلال حفاظت ته رابللی دئ.

کتاب په (۱۲۹۳هـ ق) تمام سوی دئ، او ملا صاحب يې یوه په زړه پوري شاعرانه خاتمه لیکلې ده، او ټول ملي ورونه عمل ته راغواړي او هسي وايي :

| | |
|---|---|
| زر دوه سوه درې نوي کاله | د سنې وه زما لاله |
| رساله شوه ښه وجیزه | په مومن له ځان عزیزه |
| تر عیال او مال محبوبه | تر هر قیل و قال مرغوبه |
| عندلیبو ته ګلزار دئ | روضه واړه لاله زار دئ |
| راشئ ګډ شئ په دې باغ کي | عطر بویه په دماغ کي |
| شګوفه تازه ګلان دي | یاسمن سنبل ریحان دي |
| د جنت نسیم لګېږي | ښه غوټۍ او ګل غوړېږي |
| عنبربویه هر چمن دئ | خندان هر نرګس سمن دئ |
| هر ګلاب عطر افشان دئ | هر سنبل کاکل فشان دئ |
| چي کارغه یا مردار خور وي | له دې باغه يې زړه تور وي |
| صرفه مه کړئ بلبلانو | واخلئ خوند له دې ګلانو |
| پاڼي یوسئ له دې ګلو | غنچې واخلئ د سنبلو |
| طرب عیش و کامراني کړئ | په چمن کي خوشخواني کړئ |
| ربه زما کوښښ قبول کړې | ستا رضوان ته يې وصول کړې |
| ستا دیدار زما نصیب کړې | هم راضي زما حبیب کړې |
| هم د دین رایات عالي کړې | معونت يې د والي کړې |
| ظفر فتح و نصرت ورکړې | اقبال جاه و دولت ورکړې |
| ربه دا روضه تابانه | تل تر تل لري خندانه |
| خاص و عام يې ګلاب چین کړې | ګل يې تېر تر چین ماچین کړې |
| کل جهان پرې معطر کړې | روی زمین پرې منور کړې |

د ملا صاحب د شعر نمونې مو لوړې ولوستې او له دې څخه تاسي معلوموﻻی سئ چي دې خدايي عالم څنګه د اصلاح فکر درلود، او څنګه يې حقایق خپل قوم ته په خپله ژبه وړاندي کول.

داسي اروېدل سوي دي چي ملا صاحب د سوات د مشهور پیر له فیض یافته ګانو او مریدانو څخه و او ټول عمر يې د حق په تلقین او وطني جهادو کي تېر کړی دئ.

اوس دستي ما ته د ده د وفات تاريخ نه دئ معلوم، خو دوني ښکاره ده چي دی په موسهي کي د کابل جنوبي خوا ته د لوګر په علاقه کي ښخ دئ او مزار ته يې خلك ډېر ورځي[(۱)].

[(۱)] کابل مجله، ۱۳۲٤ش کال، لومړۍ ګڼه، ۳۲- ۳٤ مخونه.